دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت شپږم کال، ۳۳ مه ګڼه، پرله پسې ۲۷۷ مه ګڼه   سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د لړم ۲۷ مه   د ۱۴۳۵ هـ ق د محرم الحرام ۲۵ مه   د۲۰۱۴ م د نوامبر ۱۸ مه

درس قرآن

او ای انسانه! ته نه ګورې چې الله پاک د ځمکې ټول څیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتۍ هم چې د الله په حکم په بحر کې چلیږي. او اسمان یې ټینګ نیولی چې دهغه له اجازې پرته په ځمکه راپرېوزي یې له شکه الله پاک په خلکو ډېر مهربان او ډېر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې یې ژوندي کړی بیا مو مړه کوي او بیا مو بېرته راژوندي کوي. ربښتیا هم چې انسان ډېر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آیتونه)

درس حدیث

از ابوسعید الخدری رضی الله عنه روایت شده که گفت: از رسول الله صلی الله علیه وسلم شنیدم که می فرمود: هرگاه کسی از شما کار بدی را دید باید آنرا بدست خویش تغییر دهد، اگر نتوانست بزبان خود آنرا منع کند و اگر نتوانست بدل خود از آن بد ببرد و این ضعیف ترین مرحلهء ایمان است. (الحدیث)

ډاکتر عبدالله عبدالله:

دولتي ادارې دې له فساد سره په مبارزه کې جدي اقدام وکړي

کابل، رسنۍ:

د حکومت اجرایي رییس ډاکتر عبدالله وايي چې نړیواله ټولنه په افغانستان کې د خپلو مرستو د دوام لپاره ژمنه ده، خو په دولتي ادارو کې د سمون او ښه والي تمه لري.

نوموړي د وزیرانو شورا په پرونۍ غونډه کې وویل چې له اداري فساد سره د مبارزې د ارزونې او څارنې ګډه خپلواکه کمیټه له څو کاله وړاندې جوړه شوې، د افغانستان ادارو ته یې خپنې سپارښتنې درلودې چې د اداري وضعیت د ښه کولو او له فساد سره د مبارزې لپاره اغېزناکې دي.

ډاکتر عبدالله زیاته کړه چې د دولت له خوا د دغو سپارښتنو ۵۰ سلنه برخه عملي شوې چې په دې ناسته کې د دې کمېټې د دوره یي مشر یاسین عثماني له خوا په دې اړه... (۴ مخ)

رئیس جمهور غنی:

من مصمم هستم که منحیث سرقوماندان اعلی قوای مسلح کشور از جان، مال و حیثیت تان دفاع نمایم

رئیس جمهور غنی:

کابل، رسانه ها:

محمد اشرف غنی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان قبل از ظهر دوشنبه از یکی از ریاست های امنیت ملی، دیدن کرد.

رئیس جمهور کشور طی سخنانی با مسئولین این ریاست، ضمن تشکری از انگیزه وطن دوستی کارمندان امنیت ملی کشور گفت: اطمینان داشته باشید که مسایل سیاسی، امنیت ملی را تحت تاثیر نخواهد برد.

رئیس جمهور غنی گفت: من مصمم هستم که منحیث سرقوماندان اعلی... (ص، ۴)

شینواری:

سیستم تجارتی، تجار افغان و پاکستانی کمپیوتری خواهد شد

کابل، رسانه ها:

وزارت تجارت و صنایع افغانستان روابط تجارتی این کشور با پاکستان را بهتر از هر زمان دیگر توصیف میکند.

مزمل شینواری معین این وزارت روز دوشنبه در یک نشست خبری در کابل سفر رئیس جمهور اشرف غنی به پاکستان را در بخش تجارت موفق خوانده گفت قرار داد های امضا شده در این سفر سهولت های تجارتی میان دو کشور را به میان میآورد.

آقای شینواری همچنان گفت قبل از این با تجارافغان و پاکستانی در بخش پرداخت مالیات برخورد دوگانه صورت می گرفت اما به گفته وی فیصله صورت گرفته تا چنین مشکلات رفع گردند:

" دو طرف به موافقه رسیدند که سیستم گمرکی دو کشور باید کمپیوتری شود، بطور مثال اگر یک کانتینر به شهر کراچی میرسد در عین وقت باید گمرک تورخم نیز باخبر شود که این مال و این جنس که قیمت آن مشخص است که قرار است به افغانستان بیاید در کراچی رسیده است واین خود راه مصونیت تجارت را باز میکند. "

آقای شینواری گفت با اقدامات جدید نرخ ترانزیت کاهش خواهد یافت و این مساله به پایین آمدن نرخ اموال تجارتی... (ص، ۴)

پاکستان له افغانستان، ایران او ترکیې سره ریلي شبکه جوړوي

اسلام اباد، رسنۍ:

پاکستان پتیلي ده چې د سیمې د مسلمانو هېوادونو ترمنځ د تجارتي همکارۍ د پیاوړتیا او د سیاحتي سمون په مقصد له افغانستان، ایران او ترکیې سره د ریلي ترانسپورتي شبکه جوړه کړي.

باختر آژانس د بزنس رکورډ ورځپاڼې له خولې خبر راکړ چې دغه تصمیم دپاکستان د حکومت د کابینې د غړو په یوه غونډه کې نیول شوی دی.

ددغه خبرله مخې: دپاکستان صدراعظم د څلورو مسلمانو هېوادونو افغانستان، پاکستان، ایران او ترکیې ترمنځ د ریلي د دغې شبکې د جوړولو په اړتیا بانديې ټینګار وکړ.

د پاکستان د حکومت تصمیم له دوو ګاوندیو هېوادونو ایران او افغانستان سره د اړیکو د ښه والي او پراختیا لپاره د اسلام آباد د ارادې څرګندوی دی او غواړي چې د ریلي د دغې شبکې په جوړولو سره د ایران له لارې څان داسلام آباد د یو مهم متحد په توګه ترکیې ته نږدې کړي.

دپاکستان او ایران ترمنځ د ریلي د همکاریو سابقه لسګونو کلونو مخکې ته... (۴ مخ)

افغانستان د نړۍ د ناپاکې هوا لرونکو هېوادونو په منځ کې دریم ځای لري

کابل، رسنۍ:

د روغتیا نړیوال سازمان د ۲۰۱۴ کال راپور پر بنسټ د ناپاکې هوا لرونکو هېوادنو یو لیست خپور کړی، چې افغانستان په کې دریم ځای لري.

په دې راپور کې پاکستان لومړی او قطر دویم ځای خپل کړی دی.

د روغتیا نړیوال سازمان په راپور کې ویل شوي چې یوازې په کابل کې د ککړې هوا له کبله هر کال شاوخوا ۳۰۰۰ تنه خپل ژوند له لاسه ورکوي.

په دې راپور کې د نفوسو تراکم، خاورې دوړې، د ډېرو غرونو له کبله د اوارو ځمکو کموالی هغه عوامل بلل شوي چې د هوا په ناوړه کولو کې یې رول لوبولی دی.

د منظم بربښنایي سیستم ... (۴ مخ)

هند له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکوي

هند، رسنۍ:

د هند یو شمېر کارپوهان وايي چې دغه هېواد د امنیت، اقتصاد او د بشر دوستانه مرستو په برخو کې دهمکارۍ لپاره له افغانستان سره اوږدمهاله ژمنه لري.

باختر آژانس د هند د خبري آژانس له خولې خبر راکړ: دغه کارپوهان دغه راز باور لري چې له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو د وتلو له پیل سر جوخت هند به د افغانستان د بیارغاونې په برخو کې د یو سترسیمه ییز قدرت په توګه رول ولوبوي.

هندي کارپوهان باور لري چې د هند دحکومت له بدلون سره سره په افغانستان کې د سولې او اقتصادي ثبات د تامینولو لپاره په دغه هېواد کې سیاسي... (۴ مخ)

رئیس جمهور غنی، از پاکستان «غنی» برگشت یا «فقیر»؟

ف، فایض

بالاخره انتخابات ۱۳۹۳ و پس لرزه های آن به پایان رسید و حکومت وحدت ملی تشکیل شد، خوبی این حکومت درین است که تمام قوتهای سیاسی در یک پلیت فورم گرد آمدند و اکنون مجال بیشتر مبارزه با چالشهای موجود فرا راه دارد؛ زیرا از قوت بیشتر بهره مند بوده میتواند. ما امیدوارهستیم که هر دو تیم یکی شده در دولت، که تیمهای دیگر را هم در ترکیبهای خود، با خود دارند، حساسیت اوضاع منطقه و جهان؛ ولی بخصوص منطقه را درک کنند و طبق توافقنامه یی که بخاطر تشکیل دولت بین شان صورت گرفته عمل کنند و هیچکدام سعی نکند پا از توافقات بعمل آمده فراتر بگذارد؛ زیرا ... (ص، ۲)

مراسم تحلیف اعضای شورای ولایتی کابل انجام شد



کابل، رسانه ها:

نامزدان برنده انتخابات سومین دور شورای ولایتی کابل سرانجام بعد از حدود هشت ماه روز دوشنبه در حضور سرپرست ولایت کابل مراسم تحلیف را برگزار کردند.

در این مراسم ۳۳ تن از نامزدان برنده شورای ولایتی کابل و برخی از وکلای دور قبل حضور داشتند.

عبدالجبار تقوا؛ سرپرست ولایت کابل ضمن تبریکی به نامزدان برنده گفت که از امروز به طور رسمی مسئولیت وکلا شروع می شود و صلاحیت ها از وکلای دور دوم به این دور تفویض می گردد.

آقای تقوا تاکید کرد که وظایف و مسئولیت وکلای شورای ولایتی خدمت گذاری به مردم می باشد.

سرپرست ولایت کابل علاوه کرد که باید وکلای شورای ولایتی... (ص، ۴)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ورځ تر بلې ډېرېدونکې امنيتي ننګونې او د دولت مسؤوليت

په دې وروستيو کې په هيواد کې امنيتي ننګونو زور اخستی. په ځانګړې توګه په کابل ښارکې د کابل پر امنيه قومندان د بريد لپاره بريد ګر، ان چې ځان د امنيه قوماندان دفتر ته ورساوه چې د دفتر مدير يې قرباني شو. د امنيه قوماندان له څرګندونونه ښکاره شوه چې بريد ګر له امنيتی تلاشيونه، نه و تيرشوی؛ بلکې د موټر په وسيله دننه ګړای شوی و. همدارنګه ورمه ورځ (۲۵/۸/۱۲۹۳) حبيبيی ليسې ته څېرمه د ولسي جرګې پر يوې غړې د موټر په وسيله ځانمرګی بريد وشو چې هغه په کې برسيرنه ټپی شوه، خو ددرې تنو ژوند يې واخيست او ټول ۳۲ تنه په کې ټپيان شول. دغسې يوازې کابل نه دی، ټول هيواد له دغسې ګواښونو سره مخ دی، په کندزکې يو تاجک تبعه چې چادري يې اغوستې وه، د امنيتی ځواکونو له خوا ونيول شو. دننګرهار په ده بالا کې د دولت د مخالفينو له خوا مکتبونه وتړل شول. دا خو مشت نمونه خروار خبره ده، نور په ټول هېواد کې امنيتی وضع ډېره ترينګلې ده. زموږ وړانديز دادی چې دولت بايد پر دې فکر وکړی او عوامل يې پيدا کړي. نژدې دوه مياشتې وشوې چې نوي دولت کار شروع کړی؛ خو د کابينې په اړه نن، سبا کيږي، کله يوه خبره پلمه او کله بله پلمه. دغه حالت په ټولنه نړی کې يو بيساري حالت دی. اوس ملت پردې نه قانع کيږي چې دولت د هرڅه لپاره بهانه وکړي. له بلی خوا نوي دولت ټول وزيران او واليان سرپرست اعلان کړي. اوس نو هر يو دا ګڼي چې زه د څو ورځو ميلمه يم؛ نو ځکه خو له رواني پلوه هم يو مسؤول کس دومره نه شي داډه کيدلای چې خپلې چارې هغسې پرمخ بوځي لکه په اصلي حالت کې يې چې پرمخ بيايي.

داخبره هم د ډېر غور وړ ده چې د کابل د امنيه قوماندان دترور لپاره بريد ګر چا د هغه تر دفتره پورې ورساوه؟ که څه هم امنيه قوماندان دهغو دلايلو په وجه چې له ده سره به وي، په دې برخه کې ډېر وضاحت ورنه کړ؛ خو پردې خو پوهيږو چې هغه به په دې برخه کې پوره څېړنه کړې وي؛ خو داچې هغه په دې برخه کې پوره وضاحت ورنه کړای شو، هم سړی يې پر دلايلو پوهيدلای شي.

اوس دا چې په کور کې له ګواښ سره مخ، د مکتب او ښندې په لارکې له ګواښ سره مخ، په لويو لارو کې له ګواښ سره مخ، مکتب او پوهنتون دې له ګواښ سره مخ، کلينک او روغتون دې له ګواښ سره مخ، دولتی کارمند دې له ګواښ سره مخ، ان چې څه موده دمخه د ننګرهار په يوه کلی کې يو عادي ځوان پردې لس زره کلداری جريمه شو چې پاک پاک به ګرځيده او پاکې جامې به يې اغوستې. له خلکو نه مړی ژوندی پاتې دی، زياتره کسان له ښارونونه خپلو کليو او باندوته نه شي تللای، ان هغه کسان چې نه د دولت کارمندان دي، نه په کومه مؤسسه کې کارکوي نه له بهرنيانو سره کوم لين دين لري يعنی هيڅ دليل نشته چې وسله وال مخالفين دې هغوی پرې وګواښي؛ خو بيا هم د روانو حالاتو په وجه پرخلکو د ويرې ترهې پيريان ناست دي او ويريږي، ځکه د بې امنيتی په وجه ډېرو غلو او داړه مارانو، قطاع الطريقانو ځان په اصطلاح همرنګ اراضي کړی او د دولت د مخالف له نامه نه په ګټې اخستنی سره خلک زوروي؛ جريمې کوي، غلاګانې او شوکې کوي چې دولت هغه مخالفين چې ولسمشريې سياسي مخالفين بولي او غله او لارشکوونکي چې له دولت سره کوم سياسي اختلاف هم نه لري سره نه پېژندل کيږي.

پوښتنه داده چې دا حالت به ترکومه دوام کوي، اوس خو له امريکا او ناټو سره امنيتی قرار دادونه هم لاسليک شول. دولت که هرڅه معاذير لري خو له دغه حالت نه د هيواد او ولس دخلاصولو مسؤوليت د دولت پرغاړه دی او بايد دولت خپل مسؤوليت وپيژني او ادا يې کړي.

رئيس جمهور غنی، از پاکستان «غنی» ...

(ادامه از صفحه اول)

... همين امر باعث بروز اختلافات خواهد شد و اختلافات نه بخير تيمهای شامل در دولت است و نه بخير ملت.

رئيس جمهوريک سلسله اقدامات را هم به سطح داخلی و هم بسطح بيرونی روی دست گرفت. بسطح داخلی دوسيهٔ بسته شدهٔ کابلبانک را باز کرد، گرچه تصفيهٔ عادلانهٔ اين قضيه زمان کار دارد؛ زيرا درين قضيه دستهای نيرومندبيرونی همدخيل‌اندو معلوم نيست آنها تاچه حد حاضر اند با دولت جديد افغانستان درين رابطه همکاری کنند؛ ولی بهمه حال يک اقدام قابل استقبال است.

به سطح بيرونی، سفرهايی به عربستان سعودی که اساساً بخاطر ادای حج عمره صورت گرفت؛ ولی در حاشيهٔ اين سفر ديدار هايی با مقامات سعودی هم صورت گرفت. هکذا، سفر چين که نتايج بالاتر از توقع داشت و سفر سوم سفر دو روزه به پاکستان بود که بتاريخ ۱۴/۱۱/۲۰۱۴ بعمل آمد.

رئيس جمهور با مقامات ملکی و نظامی آن کشور ديدار هايی داشت که علی الظاهربه سطح تجارت دست آورد های خوبی داشت؛ مثلاً:

_ توافق شد که تجارت سالانهٔ دونيم مليارد دالری به پنج مليارد دالری بالغ گردد.

- پاکستان ايجاد سهولتهايی را برای تجار افغانی پذيرفت که ديگر مال التجارهٔ تجار افغانی در بندر کراچی بلا تکليف باقی نخواهد ماند و تاجران افغانی مجبور به پرداخت ديمرج غير ضروری نخواهند بود.

- قطعه زمينی که در حدود صدوشصت يا هفتاد جريب باشد به تجار افغانی تخصيص خواهد يافت که حين رسيدن اموال تجارتی شان در آنجا جا بجا شود.

- مسايل ديگر در ظرف الی دو روز انجام خواهد يافت يعنی مال التجارهٔ تاجران افغانی بيش از دو روز در بندر کراچی معطل نخواهد شد.

- لاريهای افغانستان اجازه خواهد داشت تا مال صادراتی افغانستان را به هر شهر پاکستان که خواسته باشند، برسانند.

اين توافقات اگر جامه عمل بپوشد و حيثيت به يخ نوشتن و درآفتاب ماندن را بخود نگيرد، بدون شک به فال نيک گرفته شده ميتواند که بدون شک اين تسهيلات تأييد مستقيم برکاهش قيم اجناس خواهد داشت و بايد هم داشته باشد؛ زيرا هر فشاری که بالای تاجران آورده شود اثرات مستقيم آن بالای ملت است؛ اما آنچه درجهان سياست گذشت:

مسايل امنيتی و سياسی اکنون چنان باهم گره خورده است، که يکی مجزا از ديگر مطالعه شده نميتواند؛ زيرا در عقب نا امنيها دستهای سياست و دستهای استخبارات کار ميکنند. درين رابطه آنچه مهم است ملاقات رئيس جمهور با جنرال راحيل شريف لوی درستيز پاکستان بود. گرچه بدون يک سلسله تفاهمات و توافقات ترانزيتی، گفتگو های سياسی در عقب درهای بسته صورت گرفت و رئيس جمهور افغانستان تا بحال نه کدام کنفرانس مطبوعاتيی داده است و نه هم درين باره اظهاراتی کرده است تا بتوان در مورد قضاوت درست نمود. آنچه راهم که صاحبنظران از طريق رسانه ها ابراز ميکنند. بيشتر به فاير بدون خريطه ميماند.

عجالتاً ميشود در بين اميدواری وعدم اميدواری قرار بگيريم.

اگر سياستهای شصت وهفت سال گذشتهٔ پاکستان به ارتباط افغانستان را در نظر بگيريم و اوج و حضيضهايی را که در بين روابط دوکشور بعمل آمده، بدون شک ما را بسوی يأس می برد؛ ولی اگر قضيه را ازين نگاه ببينيم که در سياست دوستی و دشمنی هيچکدام دايمی نيست. بلکه آنچه دايمی است، منافع کشور هاست. امروز اگر امريکا به افغانستان آمده يا اگر ناتو آمده يا کشور همسايه و منطقه بنحوی چنگک انداخته اند. همه برخاسته از همين ديدگاه منفعت طلبانه است. امروز اوضاع منطقه تغيير کرده است و هنوز هم آبستن يک تحول ديگر است، فلهذا کشورها هم مجبور اند بخاطر حفظ منافع خود، خود را با شرايط جديد هماهنگ بسازند. اکنون پاکستان آهسته آهسته در منجلاب حضور نيروهايی قرار ميگيرد که امريکا آنها را ((تروريست)) ناميده است. گرچه اين قضاوت و نامگذاری تاحدی در خور تأمل است بدين معنا که امريکا هم اولاً از مجاهد در برابر شوروی سابق و کمونيزم استقبال کرد و کلمات جهاد و مجاهد و شهيد و امثال آن در مطبوعات غرب برای خود راه باز کرد؛ ولی آهسته آهسته هرقدر امکانات پيروزی مجاهدين و سقوط شوروی وکمونيزم روشنتر ميشد در لب و لهجهٔ غرب تغيير بميان ميآمد که بالاخره مجاهد به مبارز راه آزادی يا ((فريدم فايتر)) تعويض شد و بالاخره ... اينک اصطلاحات زورمند و قاتل و ... را بجای آن بکار ميبرند و آنانی که در برابر منافع غرب قرار بگيرند تروريست ناميده ميشوند. از سوی ديگر بايد امريکا و ناتو و هکذا بهتر تر از همه شورای امنيت ملل متحد از ((ترور)) و ((تروريست)) تعريف مشخصی ارائه کند تا فهميده شود که تروريست کيست. زيرا هرچيز و هرکس از روی تعريف آن خوبتر شناخته شده ميتواند. حتی به حوالهٔ خليج تايمز کابينهٔ امارات متحدهٔ عربی بشمول طالبان ۸۳ گروه اسلامی را ((تروريست)) خواند که علاوتاً گروه حقانی، داعش، اخوان المسلمين گروه حوثی يمن. جمعيت علما در قطر که علامه يوسف القرضاوی در رأس آن قرار دارد، تروريست خوانده شده اند که چنين قضاوت در مورد همگان در خورتأمل است؛ مثلاً اخوان المسلمين در کجا مرتکب ترور شده است و هکذا جمعيت علما تحت رهبری علامه قرضاوی.

بهمه حال می بينيم که اوضاع جديد امنيتی، سياسی و اقتصادی در منطقه درحال ظهور است. پس اگر پاکستان هم با وضعيت جديد با معيار های گذشتهٔ خود برخورد ميکند، بجای آنکه فايده ببرد، با زيان مواجه خواهد شد.

پاکستان درگذشته يک وسيلهٔ فشار عليه افغانستان را در دست داشت و آن بندر کراچی بودکه پاکستان هرگاه مناسبات سياسيش با افغانستان تيره ميشد ازين حربه عليه افغانستان کار ميگرفت با آنکه موافقتنامهٔ ترانزيتی ۱۹۶۵ وجود داشت و قوانين بين المللی درين رابطه وجود داشت؛ ولی پاکستان همهٔ اين مسايل را ناديده ميگرفت. چنانچه در زمان رياست جمهوری مارشال ايوب خان راه کراچی بر روی افغانستان بسته شد که افغانستان را شديداً تحت فشار قرار داد که بعداً به وساطت رضا شاه پهلوی پادشاه ايران اين معضل راه حل يافت.

اکنون قرار است افغانستان راه های متبادل بيابد. بندر چاه بهار که بمصارف بيشتر هندوستان فعال ميشود و هند ۲۶۰ ميليون دالر در آنجا سرمايه گذاری کرده است هکذا تسهيلات لازم برای تاجران افغان هم فراهم شده است. همچنان راه لاجورد که بالاخره افغانستان ازين طريق به بحيرهٔ مديترانه و بحيرهٔ سياه، ترکيه و بالاخره اروپا وصل خواهد شد و با آسيای مرکزی که همين حالا وصل شده است. شايد در آيندهٔ نه چندان دور افغانستان آنچنان نيازی به بندرکراچی نداشته باشد که بابردن هرناز پاکستان گردن نهد.

در وضع امنيتی هم پاکستان از سوی گروههای شبه نظاميان مخالف تحت نام طالبان پاکستانی، القاعده و احتمالاً هم در آينده داعش تحت فشار مضاعف قرار گرفته ميتواند. بناءً پاکستان حتماً پيشبين اين همه مسايل هم است؛ اما آنچه موضوع عمليات مشترک در دو سوی خط ديورند است، اين، مسألهٔ بسيار نازک است. ما باور داريم که دولت متوجه حساسيت اين موضوع است، بخصوص رهبران دولت که از تاريخ کشور، آگاهی کامل دارند.

✍ نصرالله

پواځې ملي پووالی او غښتلي پوځ مو د بري درشل ته رسولای شي

تاریخ دا ثابته کړې چې پوازې هغو هیوادونو دخپلې خوښې بریاوې ترلاسه کړي چې پرخپلو مخالفو لوړیو برلاسي او غښتلي وي په دې خاورینه نړۍ کې له چانه دعدل اوانصاف تمه کول هیڅ معنی نه لري ؛ ځکه چې که چیرته په نړۍ کې د عدل او انصاف قانون چلیدای :نو بیا به دنړۍ په هیڅ گوټ کې دجنگ جګړې اړتیانه وه پیداشوې. نه به چا منظم اردو درلود او نه هم جنګي وسایل؛ بلکې په ارامه فضا کې به دمتقابله احترام په روحیه خپل ژوندته ادامه ورکاوه. داچې انساني تاریخ پرېوبل له تیري او تجاوزنه ډک دی ؛ نودتیري کوونکې ځواک پرخلاف د جګړې په سنگرکې پوځي ځواک، پیاوړې رو حیه اوملي یووالي ستررول لري. هرڅوک چې څومره زیات برلاسې وي هومره زیاتې لاسته راوړنې هم لري. که څه هم دافغانستان مجاهداو غیرتي اولس دجنگ په ډگرکی دنړۍ له بل هر قوم نه دزیاتې قوي جذبې او اوچتې روحیې په بنودلو سره یې دسرښندنې روښانه باب ثبت کړی او هر څوک دهغوی جرئت اوسرښندنوته گوته په غاښ دي؛ مگرددې ټولو با وجود افغانان تر اوسه خپل اصل هدف اومرام ته ځکه نه دي رسیدلي چې په پوځي، اقتصادي، سا ینسي اود نوي زماني د نوي ټیکنالوژي په سیالۍ کې ترټولو وروسته پاتې دي ؛ ترهغې چې گران هیواد افغانستان په دې سیالۍ کې له نوروسره خپله سیالي برابره نه کړي پواځې دککریو په نذرانه کولو سره ددښمنانو له خطر ناکو عزائمو اوتاړاکونو څخه خلاصون نشي ترلاسه کولای. دافغانانو یواځینې تشه اوکمزورتیا همدا ده چې دملي یووالي دحفاظت او دنوي زماني دنوي ټیکنالوژي په ترلاسه کولوکی خپل دروند مسؤلیت نه دی ترسره کړی. او همدغه غفلت له گنو ستونزو او گواښونو سره لاس او گریوان کړي هم دي. له څه شک پرته ټول افغانان یوډول مسؤلیت لري چې په دې اړه جدي فکر وکړی اودخپل ملي اوایماني مسؤلیت د اداکولو لپاره دعمل ډگرته ودانګي ؛ ځکه چې د افغانستان دښمنانو تل له همدغو دوه ضعیفو اړخونو څخه گټه اوچته کړې اوهیواد ته دنقصان رسولو لپاره له همدغو دوه لارو څخه کار اخستی. دتیرو وختونو په څیر په اوسني روان حالت کې هم زموږ دښمنان زموږ له همدې نفاق او اختلافاتو څخه گټې اخلي، یو افغان د بل افغان پرخلاف جنگوي او د یوبل د وینې په تویولو سره هیواد له ډول ډول کمزوریو سره مخامخ کوي. زموږ دښمنان پوهیږي چې افغانان د دښمن پرخلاف په جګړه کې دفولادي غر په څیر دي چې د هغوی له منځه وړل د هیچا له وسه نه ده پوره. هرڅوک چې له افغانانو سره مخامخ دغره وهي هغه دخپلو ککریو له ماتولو پرته بل هیڅ گټه نشي کولاي ؛نوځکه هغوی خپل ټول مهارت په دې خبره متمرکز کړی چې له هرې لارې نه وي افغانان پخپلو کې سره وجنگوي، چیرته دمذهب، رنگ اوژبې ترنامه لاندې او چیرته دپرگنیو ترعنوان لاندې ؛ څوکه د دغو ټولو جنگو نو نتجې ته وکتل شي گټه یې دښمنانو او تاوان یې پخپله افغانانو ته رسیدلې دی؛ نوځکه هرافغان ته پکار دي چې نور دغه حالت ته د دوام ورکولو پرځای په دې خبره ځان پوه کړي چې لدې وروسته داسې یوه لاره او پالیسي پرمخ یوسي چې د افغانانو اسلامیت او استقلال هم خوندي پاتې شي او دپرمختک په ډگر کې هم هغه څه ترلاسه کړي چې په ننی عصرکې ورته اړتیالري؟ دغه هدف ته د رسیدو لپاره ترهر څه دمخه د افغانانو ترمنځ ملي یووالي خورا مهم دی، ځکه چې زموږ همدا ملي یووالي له یوې خوا دښمنانوته زموږ په هیوادکې دلاسوهنې زمینه له منځه وړي او بل لوري دېته لاره هواروي چې افغانان دخپلې خاورې د دفاع او استقلال لپاره داسې منظم او غښتلي پوځ چمتوکړي چې د داخلي کشمکشونو پرځای دخپل قهرمان او لس په ملاتړ د هیواد د دښمنانو ټول ناولي پلانونه خنثی او د هیواد زمکنی بشپړتیا وساتي. موږ ټول ددې خبرې گواه یو چې یو نیمګړي او ناروغ انسان له خپل روغ رمټ دښمن سره کله هم جګړه نشي کولای او که دمقابلې ډگر ته هم ودانګي؛ نوددې پرځای چې بریالی شي ماته خوري اوخپل ځان ژوبلوي؛ اخر موږ افغانان په داسې حالت کې چې د ژوند په ټولو ډگرونو کې له صفر سره ضرب یو، نه په مدرنو پرمختلیلو وسلو مجهز پوځ لرو او نه هم هغه وسائل چې دهیواد دامنیت لپاره خورا ضروري دي، نه ملي یووالي لرو او نه پیاوړی اقتصاد، نه اوچت تعلیم لرو اونه هغه ټیکنالوژي او قوي تجارت چې دافغانانو دتقویت ملاتیر جوړوي ؛ بلکې خپل ټول ژوند بل چاته دگدایي کچکول دنیولو له لارې ترسره کوو، څنگه ددی خبرې تمه کولای شو چې زموږ پر وړاندې د بري دروازه خلاصه شي ؟ زموږه لویه بدبختي داده چې خپلو نیمگړتیاو د پوره کولو پرځای دنړۍ نورو هیوادو ته د گدایي لمنه نیسو او په مره خوله زاري ورته کوو چې خدای له پاره له موږ سره گوزاره وکړئ. نه زموږ د هیواد زمکنی بشپړتیا ته تاوان رسوئ او نه هم زموږ فرهنگ اواقتصاد ته. په داسې حال کې چې دا کار خپلو ځانوته ددرواغو تسلي له ورکولو پرته بل هیڅ گټه نلري. څرگنده خبره ده چې دسوال لاس اوږدوونکي او ورکوونکي تر منځ د آسمان او زمکې فرق دی. سوالگر کله هم له ورکوونکي سره سیالي نشي کولای. دټیټ لاس والاستر کې ټیټي او دورکوونکی سرې سترگې جګې وي مگرافغانان ددغو ټولو ناخوالو او ذلتونو گاللو سره سره بیا هم په خوړنه دي راغلي او زمکنیو واقعیتونو ته نه دي تسیلم شوي. ددې پرځای چې پرخپلو پښو دودریدو کوښښ وکړي او په جګه سترگو د ژوند تیرولو لپاره دهمت ملا وتړي پر خیالي پلاوونو ځان غولوي او په هواکې خیا لي مانۍ جوړوي. څوک وایي چې موږ افغانان دسلطان محمود غزنوي، احمدشاه ابدالي او میرویس نیکه اولاده یو، زموږ تاریخ له شجاعت اواتلولۍ نه ډک دی. اوځینې بیا وایي چې افغانستان څه غریب نه؛ بلکې له قیمتي ذخائرو نه ډک هیواد دی او موږ ددې هیواد هغه زمریان یوچې زموږ په وړاندې هرڅوک دکیدړانو په څیر تیښته ځان لپاره غنمیت گڼي. دا هغه خبرې دي چې په وختی ډول خو زړه ته د درواغو تسلي ورکول کیدای شي؛ مگر اصلي او تل پاتې حل پکې له سره نشته. ځکه چې دزمانې په بدلیدو حالات او شرائط هم بدلو ن مومي. نه اوس دسلطان محمدغزنوي زمانه ده نه داحمدشاه ابدالي او میرویس نیکه. اوس زما نه په سلو کې سل تغیرموندلی. په هغه وخت کې نه چا رهبري شوې لرې واټن ویشتونکی توغندي پیژندل. نه هم بې پیلوته الوتکې. نه چا کمپیوټر لیدلی و او نه چا هم مخابرات. نه چا ټانک پیژنده او نه چا ریل گاډي او موټرې. نه چا برق پیژنده او نه په برق چلیدونکي صنعت او کارخانې. نه چا الټراساوند مشین لیدلی و او نه هم ستې سکن او لابراتواري مشینونه. زموږ اتلو اسلافو چې پخپل وخت کومې کارنامې ترسره کړي هغه ټول دهغوی په کاته کې اچول کیږي. نه زموږ په کاته کې ؛ نو ځکه دهغوی پر اتلولیو فخر کول زموږ دهیڅ درد دوا نشي کولای؛ زموږ دردونه به هله دواشي چې دخپل وخت او زما نې دضروتونو په نظر کی نیولو سره دنړۍ له نورو اولسونو سره د ساینس او تکنالوژۍ په میدان کې وروسته پاتې نه شو او اوږه په اوږه ورسره خپله سیالي پرمخ یوسو. دا صحیح ده چې موږ ډیر قیمتي ذخایر او کرهنیزې زمکې لرو؛ مگر دا چې پر سایښسي بنیادونو ترینه سمه گټه نشو اخستلای د فقر او محتاجۍ ژوند تیرولو ته اړ یو.

له بده مرغه زموږ دحکومت په لوړ پوړو چارواکو، پارلماني غړو او نورو مشرانو کې ډیر داسې اشخاص شته چې هغوی اوس هم پخپلو غونډو، مجلسونو، تلویزونو او نورو رسنیو کې ددې پرځای چې خپل ځوان نسل واقعیتونو ته متوجه کړي او د علم او عرفان اهمیت بیان کړي پرتشو لافو شافو دخپلو ځانو نو دقهرمان جوړولو بې ځای کوښښ کوي او داسې نه عملي کیدونکي مشوري ورکوي چې هیڅ مثبته پایله نه لري. زموږ هیواد په حقیقت کې دهغوپالیسیو او واقیعتو نو دخپلولو اړتیا لري چې واقعاً موږ دبري درشل ته رسولای شي هغه دا چې داوسنې زمانې هغه هنر. پوهه او ټیکنالوژي ترلاسه کړو چې تل د واقعیتونو په ډگر کې خپل اهمیت ثابت اودښمن یې شاتگ ته اړ کړی دی. دتاریخ په اوږدو کې چې هرهیواد خپل دښمن شاتگ ته اړ کړی دی هغه دخولې دتشو لافو او فریادونو په زورنه. بلکې دخپلو پوځي وسایلو له لارې دېته اړ کړی چې میدان پریږدي. موږ افغانان هم دخدای په فضل ددې لیاقت لرو چې پرخپل دښمن دفشارله لارې دهغو ی له هرډول تاوان نه ځانونه خلاص کړو ؛خو دا هله چې د فشار ټول وسائل ترلاسه کړو. ټول په گډه ژمنه وکړو چې په هره بیه وي داسې منظم اوپیاوړې پوځ جوړکړو چې لږ تر لږه پرغلگر دښمن ته غاښ ماتوونکي ځواب ورکړي؛ خو داسې پوځ نه دچا دسوال په پیسو جوړیږي او نه هم د خپلو اسلافو پر قهرمانیو د فخر له لارې؛ بلکې ددې د حل اصلي لاره دا ده چې پخپلو پیسو او وسایلو یوه غښتلی او ځواب ورکوونکې پوځ د جوړولو لپاره لاس په کار شو. کله چې په کال ۱۹۷۱ع کې بنگله دیش دهندوستان په مرسته له پاکستان نه بیل شو او دوه لکه پوځ یې په هندوستان کې بندیان شول ؛ نوپاکستا نیانو له دغه ذلت نه دوتلواو بیا بیا دهندوستان په لاس دماتې خوړلو نه د بچ کیدو په مقصد قوي عزم وکړ چې هرو مرو به اتومي ځواک ترلاسه کوي. دې موخې ته د رسیدو لپاره دهیواد په گوټ گوټ کې د اشعار زمزمه کړه چې واښه به خورو خواتوم به جوړوو. دهمدغې قوي عزم په برکت پاکستان په ۱۹۹۸ کال داتومي ځواک خاوند شو چې پرمټ یې نه پوازې له هندوستان سره خپله سیالي برابره کړه؛ بلکې دنړۍ پر سطحه هم خپل اهمیت داسې ثابت کرچې د نړۍ لوی ځواکونه هم په آسانه له نظره نشي غورځولای. د واقعیتونو په نړۍ کې زموږ ټولو افغانانو. په ځانگړي ډول چارواکو. سیاسي مشرانو او د پارلمان استازو ته پکار دی چې دسطحي فکر پر ځاي اساسي فکر وکړي. د هرڅه دمخه له هرې لارې چې وي دملي یووالي د تأمین. شفاف حکومتوالي. پیاوړی اقتصاد او پیاوړی اردو. دتشکیل په موخه خپل ټول توان پکاروا چوي؛ ځکه چې زموږ تر ټولو لومړی او حیاتي ضرورت یوپیاوړي اردو دی چې دهیواد ټولې پولې د دښمنانو له تک او راتگ څخه وساتي او دېته زمینه مساعده شي چې په آرامه فضا کې زیرمې استخراج او هیواد په اقتصادي لحاظ پخپلو پښو ودریږي؛ خو لدېنه مخکې چې زموږ اقتصاد پیاوړی او اردو په نویو وسلو مجهز شي په سسلاسی توگه پر ټولو هیوادوالو ضروري ده چې د بل چا مرستې ته د انتظار ویستلو پرځای دخپلو ورځینو مصارفو څخه یوڅه مصرف داردو ځواکونو دپیاوړتیااو دهغوی د دفاعي وسلو دپیریدلو لپاره وقف کړي. که چیرته دافغانستان هروگړی لږ ترلږه دورځې پنځه روپۍ داردو او امنیتي ځواکونو دپیاوړتیا لپاره ځانگړی کړي؛ نو په بشپړ داډ ویلای شو چې نه یواځې زموږ اردو به په ضروري وسایلو مجهز شي؛ بلکې ددې وړتیا به هم ترلاسه کړو چې پرمداخلو کوونکو هیوادو دواقعي فشارپه اچولو دهغوی له شرنه ځانونه خلاص کړو. که داسې نه کوو اودخپل پوځ دغښتلي کولو اوښه حکومتوالي له قائمولو پرته په گردي میزونو اوغونډوکې پرلافوشافو ځانونو دکاغذي زمریو دجوړولو کوښښ کوو. دانو له خپل هیواد، اولس او دین سره له خیانت پرته بل هیڅ معنا نه لري. دافغانستان مخلص متعهدو وگړي د اوسني ملي یووالي حکومت له مشرانو څخه هیله لري چې لدې وروسته دهغو عناصرو لافو شافو او پوچو مشورو ته اهمیت ورنکړي چې په تشو لاسونو د سرحدونو د دفاع خبرې کوي؛ بلکې د زمکنیو واقعیتونو په نظر کې نیولو سره دی خپلې ټولې چارې پر اساسي کرښو پرمخ یوسي او هغه څه ته لومړیتوب ورکړي چې د پوځ د پیاوړتیا او د هیواد د استحکام لپاره اساسي رول لري.

تربیت سالم اسلامی یا داخل شدن در قالب اسلام

✍ احمد خالد فیاض

انسان کمی و کاستی زیاد دارد، حتماً در هرحرکت، کردار وگفتارش افراط یا تفریط دیده میشود، اشتباهات شخصی و برداشت های عقلی با مزاج وسلیقه ها تفاوت دارد، اسلام دینی است که کمی و کاستی انسان را دور می کند و برای تنظیم و انسجام بهتر امور زندگی انسان را در قالب دین داخل می سازد وهرکنج و کنار زندگی را در آن قالب برابر می سازد بر آمدگی ها را کم و کمبودی ها را تکمیل می نماید.

وقتی که انسان در قالب اسلام داخل و هرکنج و کنار زندگی در آن قالب برابر وعیار گردد، آن وقتی است که این انسان همه چیز را بر معیار اسلام برابر ساخته افراط و تفریط و کمی و زیادت را ترک و با اعتدال و برابری برمنهج درست اسلامی حرکت کند، وی دربن وقت تربیت سالم یافته توانایی آنرا دارد که اسلام را در وجود، کردار و اقوال خود انعکاس دهد و منحیث یک عنصر مفید و سالم که اسلام را تمثیل و مصدر خدمت به جامعه اسلامی مسلمانها قرار گیرد واقع شود.

هنگامی که یک انسان مسلمان در قالب اسلام انداخته شود و با تربیت سالم اسلامی زندگی کند، همیشه مواظب و مراقب نفس خود می باشد، هر عمل و سخن خود را با معیارهای اسلام موازنه می نماید، احتیاط می کند و از سخنان بی سنجش و غیر مسؤولانه می ترسد و پرهیز می نماید، در اعمال و کردار محتاطانه گام برمیدارد دیگران را تحقیر نمی کند، خود برتر بینی و بلند پروازی ها را ترک می نماید. تواضع، فروتنی و انکسار در وجودش پیدا می شود و در هرلحظهٔ زندگی می اندیشد دنیا را فدای آخرت و برای عمران و آبادی سرای آخرت تلاش می کند تمام کردار، اقوال و حرکات خود را با همه موازین اسلامی می سنجد و در ادای مسؤولیت پیشگام می باشد.

داخل شدن در قالب اسلام معنای آنرا دارد که انسان در تمام شؤون زندگی خود را مقید می داند و در هرلحظه برای انجام هرکار و هر سخن این ارشاد الهی را در نظر میگیرد که می فرماید: ترجمه: ای مومنان! در اسلام پوره داخل شوید و از گام های شیطان پیروی نکنید.

انسانی که تربیت سالم یافته درچوکات اسلام عیار شده است، می داند که تخلف از احکام و ارشادات دینی معنای متابعت از شیطان را دارد که درینصورت انسان با شیطان همنشین شده و راه نفوذ او را در وجود خود باز می سازد.

انجام دادن اعمال خلاف شریعت و بی باکانه سخن گفتن، درحقیقت از بین بردن آن سد محکمی است که در میان انسان و شیطان قرار دارد و این امر سبب راهیابی شیطان شده، انسان را خلع سلاح می سازد، اما متابعت از احکام دینی و انقیاد کلی در برابر تمام دساتیر شرعی سپر محکم و دژ تسخیر ناپذیری است که شیطان و لشکریان طاغوت را در محاصره می کشاند و همه ذرایع و وسایل آنها را خنثی می سازد. اطمینان، سکون و آرامش کلی را در وجود انسان ایجاد کرده حوصله افزایی می کنند. جبن، بزدلی و روحیهٔ تسلیم شدن را از انسان دور می سازد، عزم انسان را محکم کرده همه خوبی ها را برای انسان اعطا می کند.

تربیت سالم، هرعضو بدن را برای اجرای اعمال مفید عیار می سازد از کجروی و انحراف باز داشته حقیقت اصلی زندگی را در اعضای بدن تمثیل و اصالت انسان را منعکس می سازد، کجی و کوری انحصار را دور ساخته جذابیت انسان را بیشتر کرده توجه همگان را بسوی او معطوف می دارد.

داخل شدن در قالب اسلام، فطرت اصلی انسان را زنده میسازد و آنرا به نمایش می گذارد و فضایل و برتری های انسان را که اشرف مخلوقات است از حالت بالقوه به بالفعل تبدیل می نماید.

آراسته گی هایی که با ارتقای معنویت در وجود انسان ایجاد می شود یکی از آثار پر بها و بیش قیمت تربیه سالم است این آراستگی محبت را پدید آورده، بغض، کینه و کدورت را از بین می برد خصلت بهیمی انسان را مهار و صفات ملکی را در وجود تقویه کرده رشد می دهد که با به وجود آمدن این حالت نفس خصلت سرکشی را از دست داده با کمال تواضع و فروتنی به سوی اطمینان و سکون حرکت می کند تا اینکه نگرانی های غم انگیز از وجود رخت بسته بعد از تخلیه شدن از صفات رذیله، به تحلیه می پردازد.

تربیت سالم و ایجاد خوبی هایی که سبب نضج و کمال گردد کار ساده و آسان و در جمله ممکنات داخل است ورنه انسان مامور نمی شد تا خوبی ها را کسب و در تربیت سالم خود و دیگران کوشش کنند؛ زیرا انسان بالا از توان و طاقت مسؤولیت ندارد فقط به اندازهٔ توان بشری مکلفیت دارد. در عین حال تاریخ نشان می دهد که مردمان زیادی در اجتماعات بشری زندگی کرده اند که از هر حیث الگو و نمونه بوده خوبی ها و خدمات نیک شان به یادگارمانده است که دیگران به آن مسی بالند، پرهیزگاران واقعی و تربیت شده گان مکتب اسلام، اسلام را به صورت واقعی تمثیل کرده با کارنامه های زرین شان کفار را به حیرت انداخته اند. در صدر اسلام تربیت شدگان مدرسه محمد صلی الله علیه وسلم چنان کردار و اعمالی را انجام دادند که به حیث بهترین عناصر اسلام نام های خود را در تاریخ ثبت کردند و در هر دور از زندگی رهبران واقعی و دلسوز اسلام از متن جوامع اسلامی بالا شده خدمات شایسته و فراموش ناشدنی را انجام دادند: علماء، دانشمندان، فقهاء و مجتهدین و پارسایان زیادی در مناطق مختلف عرض وجود کرده برای اشاعه و گسترش اسلام فعالیت های مفید و ارزنده کردند و با روش و سلوک نیک تربیتی، مردم را پرورش داده با قلدران و زورگویان مقابله و از حریم مقدس اسلام پاسداری کرده اند. این کردار ها و طرز زندگی های معقول که با اسلام واقعی موافقت دارد، نمایانگر آنست که در هر زمان انسان می تواند خود را الگو سازد و با تربیت سالم اسلامی و داخل شدن در قالب اسلام، اسلام را به صورت اصلی تمثیل کند و جلو خطرات ناشی از بی بندو باری ها و کجروی ها را بگیرد.

مهار کردن نفس و آمادگی به انجام تمام اوامر و احکام اسلامی در ارتقای مقام و منزلت انسان اهمیت خاص داشته سعادت و خوش بختی دنیا و آخرت را نصیب انسان میگرداند. آوردن صلح واقعی و تأمین امنیت زمانی ممکن و مقدور است که مردم تربیت سالم شوند و اهمیت آن را بدانند و برای بیدار ساختن ضمیر و وجدان کارکنند تا تقوا و پرهیزگاری در وجود ایجاد شده زندگی روی هدف خاص با داشتن خطوط روشن و مشخص همراه با ضمیر و وجدان آگاه انسان را از آن باز دارد و ضرورت برای پولیس و یا تعقیب کننده دیگری دیده نشود بلکه تقوای انسان به حیث پولیس در مراقبت جدی انسان پرداخته هر آن و هرلحظه او را تهدید و تنبیه کند.

شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان سراسري ارګان

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۷۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین خواجه وحیدالله | آدرس د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مېنه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

د قرآن کريم دا معجزه هم وګورئ!

فروغګر

«نن کافران ستاسې له دين نه نا اميده شوي دي؛ نو له دوی نه مه وېرېږئ؛ بلکې له ما ووېرېږئ، نن مې ستاسو دين پوره کړ او خپل نعمت مې درباندې بشپړ کړ او همدغه اسلام مې ستاسو ددين په توګه درته غوره کړی.»

اعجاز:

د اسلام د مبين دين له ظهوره تر ننه پورې يهودانو، نصاراو، هندوانو، بوداياڼو، زردشتيانو، چنګيز، انګريز، روسانو، امريکايانو او دنړۍ لويولويو فرعونانو دول، دول توطيې جوړې کړې، دسيسې يې وکارولې، سياسي مکتبونه، رژيمونه او فلسفې او ايزمونه يې جوړ کړل، په دې هيله چې اسلامي نړۍ او په مجموع کې يې ايډيالوژۍ ته ماته ورکړي، مګر هيڅ يو قدرت هم و نشو کړای، ددی محبوب دين په ښکلي مخ ان يوه کرښه هم راکاږي، تزاري روسان او کمونست تزاريان د جبری لېږدونو په ترڅ کې (۱۷۰۰۰۰۰۰) مسلمانان ووژل، ترکستان د روسانو او چينايانو ترمنځ ووېشل شو او په شرقي او غربي ترکستان ونومول شو، پوره پوره اسلامی هيوادونه دنړۍ له نقشې ووتل او ځای يې نصرانيانوته وسپارل شو چې ښکاره بېلګه يې فلسطين او فليپين دي.. ددين دښمنانوته دسوسياليزم او کمونيزم په بهانه ۷۲ کلونه پرله پسې اسلامي هيوادونه ښکيل وساتل، د قرآن، اسلام، د اسلام پيغمبر پرضد کتابونه وليکل شول، مبلغين وروزل شول اوپه‌ميليونونوډالر لګښتونه يې پرې وکړل چې په دې توګه اسلام ته زيان ورسوي؛ مګر ټول په دغه شوم مقصد کې پاتې راغلل، د شلمې پېړۍ په دوهمه يا دريمه لسيزه کې په اسلامی نړۍ کې د سيدجمال الدين د هڅو او سيار تدريس په لړ کې په زرګونو غير مسلم وګړو اسلام قبول کړ، دفرانسې غوندی اسلام دښمنه هيواد په زړه کې يې دعروق الوثقی جريده وچلوله چې تر اتلسمې ګڼې پورې وچليده او وروسته د دسيسو ښکار شوه او له خپرونو پاتې شوه. له هماغه مهاله د اسلام او ماډرن کفر ترمنځ فکري جګړه پيل شوه او بيا د روسانو تر ماتې پورې چې ورسره د کفري نړۍ ليدونو مخکښ د افغانستان په خاوره کې د هغه خوار ملت په لاس ښخ کړای شو چې په مجموع کې په دری وخته دودی نه ومور. دا هغه مهال و چې د کمونستی شوروی اتحاد له يرغله ۸ کلونه تيرشوي وو! مور ونشو کړی هغه برم د دښمنانو له توطيو او دسيسو وساتو چې زموږ په خاوره کې د نفوذي وګړو په مټ يې غوښتل چې مسلمانان ووژني، جوماتونه شهيد کړي او په دې قلمروکې د قرآن عملي او شفاهي قوانين له منځه يوسي؛ خو سره له دې هم د شرقي يورپ ډيری هيوادونه د کمونيزم له استعماره آزاد شول، د برلين ديوال ونړيد، ان فيډل کاسترو په کيوباکې اعلان وکړ چې نور په نړۍ کې د «کمونيزم بلاک» پای ته ورسيد، نور نو دنړۍ په هيڅ ګوټ کې د کمونيزم بلاک په نامه، کوم بلاک نشته، همدارنګه ډيرو هغو هيوادونو چې د روسي کمونيزم تر استعمار لاندې نه هم ووخود هغه تر اقتصادی اغيزی لاندې راغلي وو، د کمونيزم اقتصاد، فلسفه او نور قوانين يې پرېښودل، د منځني آسيا هيوادونه، له يوې مخې د شوروی اتحاد له استعمار او استثماره خلاص شول، تردې دمخه جمال عبدالناصر د مصر لوی فرعون او وروسته قذافی او صدام د خپلو پرله پسې هڅو په دوام کې غوښتل چې عربي ناسيوناليزم ژوندی کړي او په دې توګه عربي نړيوال وحدت رامنځ ته کړي..

خو داټولې مندې تړې او فلسفې، حکومتي تشکيلات دړې وړې شول او اوس د تاريخ دموزيم، يوه برخه ګرځيدلې دي، دغو دښمنانو خپل ټول توان په کار واچاوه، پيسې يې ولګولې، جاسوسان او ورانکاري يې وګومارل، د تروريستي پلانونو دعملی کولو په ترڅ کې يې د ډيرو مسلمانانو او د مسلمانانو د مشرتابه وينې تويې کړې د اسلام او مسلمانانو پرضد يې اوږدې جګړې وکړې خووېې نشوکړای چې دا دين له منځه يوسي او ياېې په ګونډو کړي؛ غور وکړئ:

الله جل جلاله زيات وکم ۱۵۰۰ کاله پخوا فرمايلی وو:

«نن کافران ستاسې له دين نه ناهيلی شوي دي؛ نو له دوی نه مه وېرېږئ، بلکې له ما ووېرېږئ، نن مې ستاسې دين بشپړ کړی ...»

سوسياليزم، کمونيزم، فاشيزم، کپيټاليزم او ليبراليزم له ناسيوناليزم سره داټول استکباری او کفری ايزمونه نن سبا د اسلام له دې اړخه ناهيلي شوي چې ماتې ورکړي او نه يې د ژوند په هيڅ يو ډګرکې د توان مقابله لري؛ نوځکه ليونې شوي دي او په خورا قساوت او سخت زړيتوب، چيرته چې مسلمان وينې وژني يې، کور او وطن يې ورانوي پر اقتصاد او طبيعی منابعو يې ګيډه اچوي، بشري ځواکونه او بشری منابع يې استثماروي چې ددغو ټولو تيريو وجه همداده چې دوی په فکري، قانوني، حقوقي او انساني لحاظ ددې دين د ځواک مقابله نشي کولی او په دې پوه دي چې که چيرې دا دين د مځکې پرمخ پلې شي، ددوی د ګټو مخه به ونيسي، آزاد بازار، د قدرت او ملکيتونو انحصار، د سود او ربا نظام او نورګند به يې وريسې نابود کړي لکه چې دوی نن سبا په دغو ناوړو ارزښتونو دمځکې د مخ پر بشريت باندې دوزخ جوړ کړي، فقط يو څو تنه محدود انسانان دي چې د فرعون په دود هرڅه ځان ته راکاږي او په ميليونونو انسانان له لوږې وژني، په اسلام کې چې احتکار، سود، غش، په تله کې غلا، استثمار او دنورو په تباه کولو د ځان ددنياګۍ ابادولو مذمت شوی؛ خو انساني سالم فطرت هم دا ناوړه ارزښتونه نه مني، حال داچې همدغه ارزښتونه ددوی جامع نظام جوړوي؛ نن سبا چې په نړۍ کې ددوی پرضد پاڅونونه، کرکې او تيت و پرکې مبارزې روانې دي، خلک دځان حق بولي چې په همدغه ډول د ځان، مال، ناموس او وطن دفاع وکړي؛ د خدای لپاره ټوله کفري نړۍ په ناټوکې مشتمل شوي؛ اخر ددوی دښمن دی خوک چې ورځ تر بلې د دوی نظامی تړونونه او دعامې مرګ ژوبلې وسلې او تجهيزات مخ په غوړيدو او خوريدو وي؟؟؟

فقط دوی يو هدف لري چې له غربيانو پرته نور اولسونه د مځکې پرمخ د ژوند حق نه لري.

مګر تاسې داډه اوسئ چې که چيرې موږ ځان راټول کړو اوپرخپلو کړو وړو تجديد نظر وکړو، اسلام په واقعی معنی خپل کړو، داکفار به ناهيلې شي او ځای، ځای به يې دسيسې خنثې کړو او هغه پرتم به بيا راژوندی کړو چې دوی به د دوو مياشتو په فاصله کې زموږ له حضوره په لړزه کې وي؛ دا هغه مهال ممکن دی چې د اسلام له خپلولو سره ددوی د مقابلې لپاره پرهمدغه اسلام تمسک وکړو چې موږ ته دداسې وسلو او تجهيزاتو دجوړولو او برابرولو دستور راکوي چې دخدای دښمنان او خپل دښمنان پرې ووېروو!

داسې تجهيزات ولرو چې د جنګ په ډګرکې پر دښمن لاسبري وو، زموږ ځينی پوهانو چې د اسلامي علوموترڅنګ‌دساينس‌او ټکنالوژۍ په زده کړه کې چې پرموږ تاکيد کوي، د همدغه الهی دستور له مخې يې کوي، او که چيرې په دغه ډګرکې له دښمنه وروسته پاتې شو له لا پو شاپو هيڅ هم نه جوړېږي.

(و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين)

چې د ملي يووالي حکومت له خوا يې خلکو او مرستندويانو ته ژمنه ورکړل شوې ده.

ډاکټر عبدالله زياته کړه چې نړيواله ټولنه له افغانستان سره د خپلو مرستو ادامې ته ژمنه ده، خو دوی تمه لري چې په ادارو کې سمون او ښه والی راشي او له فساد سره جدي مبارزه وشي.

هغه وويل چې د وزيرانو شورا په ناسته کې د هېواد پر امنيتي وضعيت بحث وشو، د کورنيو چارو او نورو امنيتي چارواکو په دې اړه وضاحت ورکړ.

ډاکټر عبدالله د ولسي جرګې پر غړي شکريې بارکزي هم شوي بريد وغانده.

د ولسي جرګې پر دې غړې تېره ورځ په دارالامان سړک بريد وشو چې له امله يې درې کسه ووژل شول او د مېرمن بارکزۍ په ګډون ۳۲ تنه نور ژوبل شوي دي.

من مصمم هستم که منحیث...

قوای مسلح کشور از جان، مال و حیثیت تان دفاع نمایم.

محمد اشرف غنی خاطر نشان کرد که هر کسیکه دست به قتل و جراحت شما می زند، به زندان خواهد رفت و متیقن باشید که کسانی را که شما با زحمات زیاد دستگیر کرده اید، به پنجه، قانون و عدالت سپرده خواهد شد.

سیستم تجارتی، تجار افغان ...

در کشور کمک می کند.

به اساس معلومات وزارت تجارت و صنایع افغانستان حکومت پاکستان حاضر شده است تا برای تجار افغان ویزه، یک ساله صادر کند و برای عبور وسایط باربری تجار افغان از بنادر پاکستان ممانعت ایجاد نخواهد شد.

در عین حال با آنکه شماری از تجار افغان از اقدامات اخیر حکومت افغانستان به هدف حل مشکلات تجارتی در پاکستان استقبال می کنند اما روی عملی شدن آن تاکید می ورزند.

حاجی رحم الدین یکی از تاجران افغان در صحبت با رادیو آزادی ابراز امیدواری کرد که این تعهدات هرچه زودتر عملی گردند.

این در حالیست که رئیس جمهور اشرف غنی احمدزی به وزارت تجارت وصنایع افغانستان دستور داده تا قرار داد های امضا شده در این خصوص را تا یک ماه دیگر عملی سازد.

اما برخی از تحلیل گران امور اقتصادی به تعهدات پاکستان در رابطه به حل مشکلات تجار افغان خوشبین نیستند و می گویند قبل از این بار ها این کشور برخلاف تعهدات اش عمل کرده است.

افغانستان د نړۍ د ناپاکۍ ...

د نشتوالي له کبله په شخصي توګه د ډيزلي جنراتورونو کارول، د تودوښې په توليد کې د زړو ټايرونو او پلاستيکي توکو سوځول پر يادو عواملو سربېره نور علتونه دي چې د افغانستان په تېره د کابل د هوا پر ناوړه کولو کې يې پراخ رول لوبولی دی.

تر افغانستان وروسته بنګله دېش، ايران، مصر، منګوليا، متحده عربي امارات، هندوستان او بحرين په ترتيب سره د هغه هېوادونو په سر کې ځای لري چې په نړۍ کې ترټولو ناوړه هوا لري.

هند له افغانستان سره خپلو ...

اراده دغه راز شته.

د هند د بهرنيو چارو وزيرې سوشما سوراج ويلي دي چې دوی په افغانستان کې د پاتې کېدو لپاره ليوال دي.

د هند دخبري آژانس دخبرله مخې: دا ټول هغه مثبت پيغامونه دي چې په يوه وخت کې په افغانستان کې د شتون د دوام لپاره شته چې افغانستان له يوه ډېر مهم پړاو څخه د تيريدو په حال کې دی.

د هند د دفاعي څېړنو او تحليلونو د انستيټوت څېړونکي ويشال چندرا په افغانستان کې پرمختياوې له نږدې تعقيبوي او په دې باور دی چې امنيت به د افغانستان د نوي حکومت لپاره د يوه چلنج په توګه پاتې شي.

د چندرا د څرګندونو له مخې: کلونه کلونه به تېر شي چې د افغانستان حکومت حالت ترخپل کنټرول لاندې ونيسي.

دغه څېړونکي دې ته په اشارې سره چې په افغانستان کې له ديرشو کلونو څخه زيات د جګړې اوربل دی؛ وايي: هېڅوک هيله نه لري چې د افغانستان حکومت وکولای شي په امنيتي حالاتو بريالی شي.

چندرا وايي: افغانستان داسې هېواد دی چې خپل ټول امنيتي، اقتصادي او سياسي مرکزونه يې په دغه بهير کې له لاسه ورکړي و.

د چندرا په باور: دغې مسئلې ته په پاملرنې سره له لسو څخه تر ديارلسو کلونو پورې لږ موده ده چې هيله ولرو چې هر حکومت په افغانستان کې وکولای شي په يواځې ډول د خپل امنيت د تامينولو مسووليت په غاړه واخلي.

د هند د څارنې او تحقيق د مرکز سلاکار ويکرام سوود وايي: د افغانستان د ملي امنيت ځواکونه لازمې وسلې، تجهيزات او امکانات چې دا ړو دوړ د حالت د کنټرول لپاره اړتيا ده؛ په واک کې نه لري.

هند نه يواځې له افغانستان سره مالي همکاري کوي؛ بلکې په نه سترې کېدونکې توګه په افغانستان کې د پوځيانو او د ملکي وګړو د روزنې په برخه کې هم کار کوي.

د ترلاسه شويو رپوټونو له مخې؛ اوس زيات شمېر افغان محصلان په هند کې زده کړه کوي او زياتره يې په فني زده کړو بوخت دي.

پاکستان له افغانستان، ایران ...

اړه پيدا کوي.

دعمان سمندرګي په سواحلو کې دتجارتي فعاليتونو دپراختيا په تيره بيا په ايران کې د چابهار بندر او په پاکستان کې د ګوادر بندر د پراختيا د طرحې لپاره د دواړو هېوادونواقداماتو ته په پاملرنې سره دواړه لورې د ريلي شبکو زياتې پراختيا ته اړتيا لري.

مراسم تحلیف اعضای شورای ...

مشکلات مردم را حل کنند و مراجعین را از سر گردانی نجات دهند.

عبدالفهیم راشد، وکیل دور دوم شورای ولایتی کابل به نمایندگی از وکلای دور قبل گفت که‌برای‌حل‌مشکلات‌مردم‌و پالیسی های ولایت کابل، وکلا تلاشهای فراوانی کردند.

راشد افزود که شورای ولایتی بنابر اولویت های مردم و پالیسی های ولایت؛ اعضا به هفت کمیته تقسیم شدند، تا پیشبرد کارها سریع تر و راحت تر انجام شود.

وی افزود که به خاطر نیازهای مردم، کمیته های الکشافی، اصلاحی، روابط، فرهنگی، امور زنان، امنیت و مالی و اداری تشکیل شده بود و فعالیت های گسترده ای صورت گرفت.

این اظهارات از سوی وکیل دور قبل شورای ولایتی درحالی اظهار می شود که شهروندان کابل از کارکردهای شورای ولایتی رضایت ندارند و عملکرد آنان را ناکارا توصیف می کنند.

از سوی دیگر سید نقیب الله هاشمی، نامزد برنده دور سوم شورای ولایتی گفت که به مردم اطمینان می دهم که صادقانه به تعهدات خود عمل کنم و به خاطر رفاه و سربلندی افغانستان تلاش کنم.

قرار بود مراسم تحلیف هفته گذشته صورت بگیرد ولی به دلیل اعتراض برخی از نامزدان ناکام این مراسم چند روز به تاخیر افتاد.

به تاخیر افتادن مراسم تحلیف باعث قطع اعتراض ها نشد و نامزدان معترض همچنان به اعتراض های خود ادامه دادند. دیروز نیز مقابل ارگان های محل خیمه های تحصن بر پا کردند.

د ترکيې سفير د افغانستان لپاره د ناټو د نوي ملکي استازي په توګه وټاکل شو

کابل، رسمي:

د ناټو سازمان سرمنشي جينز سټولټنبرګ په افغانستان کې د ترکيې اوسنی سفير اسماعيل ارامز د ناټو نوی ملکي استازی ټاکلی دی.

په کابل کې د ناټو سازمان د ملکي استازي له دفتره د لړم پر ۲۶مه په يوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې دغه ټاکنه پرون د ناټو په مرکز بروکسل کې شوې ده.

د پژواک د راپور پربنسټ، د سرچينې د معلوماتو له مخې، ټاکل شوی نوی ملکي استازی ارامز د نوي زېږديز کال په لومړيو کې خپله نوې دنده پيل کړي.

نوموړی د اوسني ملکي استازي ماورتس يوخيمز ځای نيسي، هغه چې له ۲۰۱۲ زېږديز کال راهيسې په افغانستان کې د ناټو د ملکي استازي په توګه دنده ترسره کوي.

اسماعيل ارامز چې اوسمهال په کابل کې د ترکيې سفير دی، تر دې مخکې پر ۲۰۰۳ زېږديز کال په ناټو کې د ترکيې د دايمي استازي د مرستيال او تر هغه وروسته يې په افغانستان کې د ايساف ځواکونو د عمومي قوماندان د سياسي سلاکار په توګه هم دندې ترسره کړې دي.

دغه راز هغه د ترکيې په بهرنيو چارو وزارت کې د ناټو اړوند په مهمو او کليدي دندو کې هم کار کړی دی.

د ناټو په خبرپاڼه کې راغلي چې اوسنی استازی ماورتس يوخيمز په افغانستان کې د ناټو له هڅو د ملاتړ په برخه کې رغنده رول لوبولی دی.

سرچينې زياته کړې، نوموړي له افغان چارواکو، د نړيوالو سازمانونو له لوړپوړو چارواکو او د ناټو غړو هېوادونو او متحدينو له پوځي او ملکي مشرانو سره په اغېزمنه توګه کار کړی دی.

دولتي اداري دې له فساد سره ...

راپور وړاندې شو.

د حکومت اجرائي رييس زياته کړه: "له ټولو دولتي ادارو څخه زموږ غوښتنه دا ده چې د دغو سپارښتنو په عملي کولو کې تر هغو چې د هېواد د قوانينو په اډانه کې د عملي کېدو مجال وي، جدي اقدام وکړي."

هغه وويل چې د هېواد په ادارو کې اصلاح او ښه والی د خلکو غوښتنه ده او دا هغه څه دي